## د الکټروتخنیک او مخابراتو د سټندرډونو د تدوین تخنیکي کمېټه TC-8

### تاریخچه

د الکټروتخنیک او مخابراتو د سټندرډونو د تدوین تخنیکي کمېټه په ۱۳۸۸ کال کې د سټنډرډونو د تدوین او ساختماني ملي کوډونو د ریاست په چوکاټ کې ایجاد او په ۱۳۸۹ کال د منظور شوي پلان له مخې یې د لومړۍ غونډې په جوړولو سره په فعالیت پیل وکړ.

### عمده فعالیتونه

- د کمېټې په وسیله د ۶۹ غونډو جوړول
- د برښنا او برښنایي وسایلو د ۲۰۰ سټنډرډونو نهایي کول
- د ملي سټنډرډونو په توګه د سټنډرډ د عالي شورا له لوري د ۱۳۴ سټنډرډونو منظوري
- د شبکې سېسټم په برخه کې ځواکمن ټرانسفارمرونه، هیدولیک ټوربینونه، د لوله یي فني ټوربینونو مشخصات او داسې نور د تخنیکي کمېټې په وسیله تصویب او د سټنډرډ عالي شورا ته وړاندې کولو لپاره چمتو دي.

### همکاره بنسټونه

- د اوبو او انرژۍ وزارت د کمېټې د رییس په توګه
- کابل پوهنتون د غړي په توګه
- پولیتخنیک پوهنتون د غړي په توګه
- د افغانستان د علومو اکاډمي د غړي په توګه
- د کلیو پراختیا وزارت د غړي په توګه
- د ښار جوړونې وزارت د غړي په توګه
- له پانګونې څخه د ملاتړ اداره د غړي په توګه
- د برښنا شرکت د غړي په توګه
- د برښنایي توکو خصوصي تولیدي شرکتونه د غړي په توګه
- د سټنډرډ ملي ادره د سکرټر په توګه

**ټولیزې دندې:**

- د برېښنا، برېښنايي تجهیزاتو او د انرژۍ د تجدید وړ سټنډرډونو تدوین، پراختیا، اصلاح او اقتباس
- د سټنډرډ جوړونې نړیوال سازمان (ISO)، د الکترو تخنیک نړیوال کمیسیون او د سټنډرډ جوړونې سیمییز سازمانونو څخه د ادارو او دولتي ادارو د اړتیا وړ د اړینو سټنډرډونو حصول
- د الکتروتخنیک او مخابراتو د ملي سټنډرډونو د تدوین په موخه د همکارۍ د ترلاسه کولو لپاره له اړونده ادارو، علمي او مسلکي بنسټونو او خصوصي سکټور سره د کاري اړیکو جوړول